# تفسیر

# احمد

## سورة النبأ

شمیره: (78)

Ketabton.com

### د «النباء» سورت ژباړه او تفسیر

لیکوال: امین الدین سعیدي - سعید افغانی

ketabton.com - The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

# النبأ سورت

## دیرشمه سپاره

دا مبارک سورت په مکه مکرمه کې نازل شول دی او (۴۰) مبارک آیتونه لري.

**پیلیزه:**

قرآن عظیم ألشأن الهي کتاب او تر ټولو لوی تلپاتې اعجاز، وروستی الهي پیغام او د ټولو اسماني کتابونو خلاصه او لنډیز دی. هغه کتاب دی چې پر نوراني پاڼو یې هېڅکله هم د زړښت او فناء دوړه نه کښېني. دا الهي کتاب د وخت په تېرېدلو سره نه یوازې نه زیانمن کېږي، بلکې ورځ په ورځ یې علوم، معارف او معرفت لا را برسېره کېږي. قرآن د اسلامي امت څواکمن قانون دی؛ له همدې امله د تاریخ په اوږدو کې دښمن تل هڅه کړې ده چې په ډول ډول دسیسو سره اسلامي امت د قرآن له حیاتي لارښوونو څخه لرې وساتي او د انسان جوړونې دا کتاب مهجور او منزوي کړي؛ خو د هغوی په پرله پسې هڅو سربېره قرآن د ټولو بدلونونو، حرکتونو او قیامونو سرچینه ده او د څرګندو آیتونو رڼا یې د وخت د خفاشانو سترګې ړندې کړې دي.

د قرآن نور زمونږ د هیلو ډېوه ده، الله تعالی فرمايي: «اِنَّ هذَالقُرْآن يَهْدِي لِلَّتي هِيَ اَقْوَم»، [الاسراء: ۹]، (بې شکه چې دا قرآن هغې لارې ته ښوونه کوي چې نېغه او برابره ده). هېڅ منبع اوسرچینه نه شي کولای د قرآن په اندازه رڼا خپره او د انسان زړه روښانه کړي او هېڅ عمل د قرآن په څېر نه شي کولای، د انسان اخلاق جوړ کړي. قرآن عظیم ألشأن مونږ ته د ژوند سمه او سالمه تګلاره او نېغه حقیقي لاره ښيي. . الله تعالی دی زمونږ زړونه په قرآن منور کړي او منور وساتي «اللّهُمَّ نَوِّرقُلوبَنا بِالقُرآن» آمین یا رب العالمین.

ګرانو لوستونکو!

د قرآن کریم په دېرشمه سپاره کې د سورتونو په اتفاق نږدې اکثریت مکي دي. د بحث تر ټولو مهم مسایل د قیامت مسئله او د حشر په ورځ د انسان د وضعیت شرحه ده.

دا په دې سبب ده چې د انسان د اصلاح لپاره لومړی ګام په دې موضوع پوهېدل دي چې حساب او کتاب موجود دی. داسې محکمه او عدالت حاکم دی چې له عادل څخه هېڅ شی پټ نه پاتې کېږي؛ هغه محکمه چې ظلم او جوړ جاړی په کې نه کېږي او نه هم کومه تېروتنه په کې ترسره کېږي. سپارښتنه، وسیله او رشوت کار نه ورکوي او نه هم دروغ ویل کېدلا شي او نه انکار کېدلای شي. هلته د تېښتې لپاره هېڅ لار نشته، یوازینۍ لاره په دې دنیا کې د ګناه پرېښودل او د الهي قانون او حکمونو پیروي ده.

په داسې محکمه او عدالت ایمان، انسان ته تکان ورکوي؛ ویده روح راویښوي، تقوا، ژمنه او د مسوولیت احساس پیاوړی کوي او انسان د خپلې دندې پېژندلو ته رابولي. په هر چاپېریال کې چې فساد خپرېږي، دوه لامله لري؛ لومړی د خوندیتوب څواک او دویم د قضایي تشکیلاتو کمزوري ده. که چېرې څېرک او فعال مراقبین د انسانانو اعمال تر نظر لاندې ولري، محکمه په سمه توګه د متخلفینو جرمونو ته رسیدګي وکړي او هېڅ جرم له جریمې پرته پاتې نه شي، په داسې یوه چاپېریال کې ګناه، ظلم او سرغړونې ټیټې کچې ته رسېږي. کله چې مادي ژوند په دې ډول روان او د مراقبینو او محکمې تر نظر لاندې وي، د انسان د الهي او معنوي

ketabton.com - The Digital Library

ژوند موخه روښانه کېږي.

د هغه لوی خالق په وجود ایمان چې پر ټولو شیانو تسلط لري، لکه څرنګه چې په دې مبارک آیت کې فرمایي: «لا یَعزُبُ عَنهُ مِثقالُ ذَرَّةٍ» [سبأ: ۳] یعني: (د ذرې په کچه هم کوم څه د هغه له علم څخه پټ نه پاتې کېږي) او د داسې ورځې په مصداق ایمان لکه چې فرمایي: «فَمَنْ یَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَیْرًا یَّرَهٗ﴿۷﴾ وَمَنْ یَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا یَّرَهٗ ﴿۸﴾» [الزلزلة: ۷- ۸]، (چا چې د ذرې په کچه نېک عمل کړی وي (مکافات) به یې ویني. او چا چې د ذرې په کچه بد عمل کړی وي، (مجازات) به یې ویني)؛ داسې ایمان او تقوا په انسان کې رامنځته کوي چې کولای شي، د ژوند په ټولو اړخونو کې د هغه د خیر د لارې لارښود وګرځي.

دویمه موضوع چې په دېرشمه سپاره کې د څېر او تامل وړ ده، د رسول الله ﷺ د الهي ملاتړ مسئله ده. دا قاطع ملاتړ کولای شو، په (الضحی، الانشراح، الکوثر، العلق او نورو سورتونو) کې درک کړو. په دې سورتونو کې مونږ وینو چې الله ﷻ له خپل پیغمبر څخه ملاتړ او نصرت اعلانوي او هېڅکله د خپل رسول ﷺ شا خالي نه پرېږدي.

په دې سپاره کې بل اساسي بحث د کفارو، مشرکانو او تکذیب کوونکو په وړاندې د الهي ځواک د ښودلو بحث دی؛ هغه دا دی چې دوی به هېڅ لار ونه مومي. نبي کریم ﷺ په مکه کې په ښکاره په کمزوري موقف کې و، مګر خدای ﷻ په همدې سورتونو کې ډول ډول تهدیدونه، اِنذار او اخطارونه د کفارو او مشرکانو په لور متوجه کړي چې بېلګه یې په (همزه سورت «وَیلٌ لِکُلِّ هُمَزَةٍ»، یا په المطففین، «وَیلٌ لِلْمُطَفِّفِینَ»، الهب «تَبَّتْ یدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ» او یا په العلق) سورت کې وینو چې الله سبحانه وتعالی فرمایي: «کَلّا لَئِن لَم یَنتَه لَنَسفَعاً بِالنّاصِیَةِ ناصِیَةٍ کاذِبَةٍ خاطِئَةٍ» [العلق: ۱۵- ۱۶].

په دې توګه دا سورتونه د رسول الله ﷺ او مؤمنانو د روح او روان د پیاوړتیا لپاره تر ټولو مهم عوامل ګڼل کېږي. دا سورتونه کولای شي د مکې په سخته فضاء کې مؤمنان له روحي او رواني پلوه ارام او پیاوړي کړي او په هرځای او وخت کې د دې سورتونو تلاوت کړي. د دېرشمې سپارې سورتونه د توحید او معاد په برخه کې د اعتقادي اساس د پیاوړتیا او هم له روحي او معنوي نظره له الله ﷻ سره د انسان د اړیکې د قوت لپاره ډېر ګټور او اغېزناک دي. له الله تعالی څخه غواړو؛ د دې سورتونو تفسیر او ترجمه چې د علمي او څېړنیزو درسونو په شکل د (احمد تفسیر: د دېرشمې سپارې تفسیر شریف) تر سرلیک لاندې ترتیب او چمتو او ستاسو د لاس رسي وړ ګرځېدلی دی، غوره فرصت رامنځته کړي، ترڅو دا قرآني درسونه ستاسو لپاره ګټور او د سیخې لارې لارښود وګرځي.

الله ﷻ دې مونږ ټول په دې دعا کې شامل کړي: «رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعدَ إِذ هَدَیتَنَا وَهَب لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحمَةً إِنَّكَ أَنتَ ٱلوَهَّابُ» [آل عمران: ۸].

### د تسمیې وجه:

«عم» مبارک سورت په مکه کې نازل شوی او په «النبأ» نومول شوی دی. دا چې دا مبارک سورت د الله تعالی په دې مبارکې وینا پیل دی: «عَمَّ یتَسَاءَلُونَ﴿۱﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِیمِ﴿۲﴾» او موخه ترې د حشر ورځ ده، په «عم» او «النبأ» مشهور دی.

ketabton.com - The Digital Library

د دې سورت د مبارکو آیتونو اساسي بحث پر طبیعت د حاکم حکیمانه نظام او د مکافاتو او مجازاتو د نظام د اجرا لپاره د قیامت د رامنځته کېدلو په استدلال سره د الهي حکمت بیان دی او له دې پرته د انسان ژوند عبث او بې ګټې ګڼل کېږي. د دې سورت اصلي ټکی په معاد (قیامت) د اعتقاد په اثبات بحث دی، کوم چې مشرکانو ترې انکار کاوه.

### له المرسلات سورت سره د النبأ سورت مناسبت او اړیکه:

**الف**: د دواړو سورتونو ورته والی له مرګ وروسته په بیا ژوندي کېدلو او د هغه د اثبات په دلایلو بحث، د خدای ﷻ د قدرت او د کافرانو او تکذیب کوونکو د غندنې بیان دی. [المرسلات: ۱۶، ۲۰، ۲۵ آیتونه]، [ النبأ: ۶-۱۶].

ب: دواړه سورتونه د جنت او دوزخ په وصف، د پرهېزګارانو د نعمتونو، د کافرانو د عذاب او د قیامت په بیان کې مشترک دي.

ج: د هغو آیتونو توضیح او شرحه چې په مخکیني سورت کې په مجمل ډول راغلي دي. [المرسلات /۱۲-۱۴، النبأ: له ۱۷ د سورت تر پایه].

### د النبأ سورت د آیتونو، کلمو او تورو شمېر:

دا سورت د قرآن عظیم ألشأن د دېرشمې سپارې پیل او د مکي سورتونو له ډلې څخه دی. (۲) رکوع، (۴۰) آیتونه، (۱۷۴) کلمې، (۸۰۱) توري او (۳۶۳) ټکي لري. (د یادونې وړ ده چې د قرآن کریم د سورتونو د تورو د شمېرنې په ډول کې د علماو اقوال متفاوت او مختلف دي. د دې بحث د تفصیل لپاره کولای شئ، د احمد تفسیر الطور سورت ته مراجعه وکړئ).

د یادونې وړ ده چې د دې سورت نومونه په دویم آیت کې د راغلي تعبیر په سبب دي او کله کله ترې د (عمَّ) سورت په نوم د لومړي آیت په تناسب تعبیر کېږي.

### د النبأ سورت د نزول سببونه:

د اسلامي نړۍ مشهور مفسر او مؤرخ محمد بن جریر طبري رحمه الله او مشهور محدث ابن ابي حاتم له حسن څخه روایت کړی دی: کله چې رسول الله ﷺ په نبوت مبعوث شو او د مکې خلکو ته یې د خدای ﷻ د یووالي او له مرګ وروسته د بیا ژوندي کېدلو خبر ورکړ او قرآن یې ورته تلاوت کړ، کفارو له یو بل څخه پوښتنې پیل کړې او ویل یې: محمد ﷺ ته څه پېښ شوي؟ هغه له ځان سره څه راوړي دي؟ نو الله ﷻ دا سورت نازل کړ: «عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ﴿٢﴾» او د هغوی پوښتنې یې په دې وینا سره ځواب کړې.

### د النبأ سورت منځپانګه:

الله ﷻ د قرآن کریم سورتونه په زړه راښکونکو موضوعاتو پیل کړي او وروسته اصلي موضوع بیانېږي چې په دې سورت کې هم له کافرانو څخه په پوښتنه پیل شوی دی. النبأ سورت د دېرشمې سپارې خلاصه او لنډیز دی. که چېرې انسان په هغو معارفو وپوهېږي چې دا سورت یې بیانوي، د دې سپارې په خلاصه پوهېدلی دی.

په دې توګه د دې سورت منځپانګه کولای شو، په لاندې څو ټکو کې خلاصه کړو.

ketabton.com - The Digital Library

۱.دا مبارک سورت د قیامت، حشر او جزا په بحث پیل شوی دی، هغه موضوع چې د مکې د کفارو ذهنونه يې بوخت کړي وو، تر دې چې د مکې خلک په دې اړه په دوه ډلو؛ تصدیق کوونکو او دروغ ګڼونکو ووېشل شول. «عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ﴿٢﴾... »

۲.د انسان ژوند په ځمکه او اسمانونو کې د الله سبحانه وتعالی ځواک او قدرت د بېلګو په بیان او د قیامت او حشر پر امکان د دلیل په توګه وړاندې کېږي.

۳.تر دې وروسته د بعث موضوع یاده شوې، وخت او موعد يې مشخص شوی دی او دا بیانوي چې په هغه ورځ الله ﷻ د خپلو بنده ګانو ترمنځ پرېکړه کوي او لومړني او اخرني د حساب لپاره راټولوي. «إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾».

۴.وروسته د دوزخ او د سرغړوونکو د دردناک عذاب ډولونه بیان شوي دي چې لوی رب ﷻ د کافرانو لپاره چمتو کړی دی. الله تعالی فرمايي: «إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِلطَّاغِينَ مَآبًا﴿٢٢﴾ لَابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا﴿٢٣﴾».

۵.د کافرانو له بحث وروسته د پرهېزګارانو په اړه بیان دی او د هغوی لپاره چمتو شوي نعمتونه او د جنت انعامونه شرحه کېږي: الله تعالی فرمايي: « إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾».

۶.په پای کې د قیامت د ورځې په وېره، ډار او خوف بحث کېږي. هغه وېره او خوف چې کافران يې له شدت څخه په خاور د بدلېدلو آرزو کوي چې کاش هېڅ نه حشر کېدلای. خدای ﷻ فرمايي: «إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴿٤٠﴾».

ketabton.com - The Digital Library

## د النبأ سُورَت ژباړه او تفسير

## دېرشمه سپاره

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د الله ﷻ په نوم چې زيات مهربان او پوره رحم لرونکی دی

عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ﴿٢﴾ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾ كَلا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ الأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾ وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا اللَّيلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَينَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾ إِنَّ يَومَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَومَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِفَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَاءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لايَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيءٍ أَحْصَينَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا فَلَنْ نَزِيدَكُمْ إِلا عَذَابًا ﴿٣٠﴾ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلا كِذَّابًا ﴿٣٥﴾ جَزَاءً مِنْ رَبِّكَ عَطَاءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَينَهُمَا الرَّحْمَنِ لا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَومَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلائِكَةُ صَفًّا لا يَتَكَلَّمُونَ إِلا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَلِكَ الْيَومُ الْحَقُّ فَمَنْ شَاءَ اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَومَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيتَنِي كُنْتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾

**لنډه ژباړه او تفسير:**

درنو لوستونكو!

په (١ - ٣٠) مباركو آيتونو كې په بيا ژوندي كېدلو، د اثبات په دلايلو، د قيامت د ورځې په اوصافو، نښو او د عذاب پر ډول بحث ترسره كېږي.

**«عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ» (١):**

(«كافران» د څه په اړه له يو او بل څخه پوښتنه كوي؟).

(عَمَّ) له دوه تورو (عَنِ) او (ما) څخه مركب شوی دی. (ما) د استفهام (پوښتنې) لپاره راځي. په دې تركيب كې الف له (ما) څخه ساقط شوی دی، معنی يې دا ده چې هغوی د څه په اړه له يو او بل څخه پوښتنه او خبرې اترې كوي. وروسته په خپله ځواب وركوي او فرمايي:

«يَتَسَآءَلُونَ»: له يو بل څخه پوښتي. كله چې د مكې كفار او مشركين له نويو بحثونو او مطالبو لكه: مبدأ او معاد، وحې او نبوت، حشر او د قيامت حساب او كتاب، جنت او دوزخ او له نورو موضوعاتو سره مخ شول، نو كله به يې د شك او كله به يې د ټوكو، شوخۍ او مسخرو له مخې په دې اړه له يو بل څخه پوښتنې كولې. په دې صورت كې يې پوښتنه دا وه چې: آيا قيامت رښتيا راتلونكی دی؟

ketabton.com - The Digital Library

**«عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ» (۲):**

(د لوی خبر په هکله؟).

«نبأ عظیم»: مفسرینو په څو معناو تفسیر کړی دی: قیامت، قرآن، د مبدا او معاد د ټولو دیني عقایدو اصول. مګر د دې سورت په آیتونو کې موجود قرائن او شواهد ښیي چې پر (قیامت) تفسیر یې ترټولو غوره دی. دا په دې معنی ده چې د مکې خلک د قیامت د لوی خبر په اړه بحث او پوښتنې کوي او د هغو په اړه اختلاف لري.

**«الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ» (۳):**

(هغه چې دوی په خپله په کې اختلاف لري).

حضرت ابن عباس (رض) په یوه حدیث کې فرمايي: کله چې د قرآن عظیم ألشان نزول پیل شو، د مکې کفار په خپلو مجلسونو او محفلونو کې په دې اړه قیاس او رايه اچونه کوله. په دې تراو ګرم بحثونه روان وو چې ځینو به تصدیق کول او ځینو به یې د تکذیب لپاره استدلال کاوه. په دې توګه د دې سورت په پیل کې د دوی هغه وضعیت ذکر شوی دی او وروسته یې وقوع بیان کړې ده او د دوی د هغه استبعاد او شکونو په اړه ځواب ورانديې شوی دی چې د قیامت د واقع کېدلو په اړه یې درلود.

ځینې مفسرین لیکي: دا بحثونه، پوښتنې او ځوابونه د واقعیت د تحقیق په اړه نه ترسره کېدل، بلکې یوازې د استهزا ، تمسخر او ټوکو په موخه وو.

قرآن عظیم ألشان د هغې جملې په ځواب کې د تاکید لپاره بیا تکراروي:

**«كَلَّا سَيَعْلَمُونَ» (۴):**

(نه هېڅکله نه! ډېر ژر به پوه شي).

داسې نه ده لکه مشرکان چې فکر کوي، په الله تعالی قسم چې ډېر ژر به د دې خبر په واقعیت پوه شي او د خپل عمل او فعل بدوالی به درک کړي؛ هغه وخت چې د قبرونو خاوندان را پورته شي، هغه څه چې په سینو کې پټ دي، ښکاره به شي، حجابونه او پردې به له منځه لاړ شي او ټولې چارې به روښانه شي. کفارو ته دا سخت خبرداری او د هغوی غندنه ده چې بیا ځلې د خبرداري او وعید د مبالغې او تشدید په موخه په دې ټکان ورکوونکي خبر تکرار شوی دی.

«سَيَعْلَمُونَ»: پوه به شي. مراد له مرګ وروسته پوهېدل دي، ځکه انسان له مرګ وروسته خپل احوال او وضعیت ته متوجه کېږي. (تفسیر نور: د قرآن د معاني ژباړه)

**«ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ» (۵):**

(بیا هېڅکله نه! ډېر ژر به پوه شي).

په دې معنی چې هېڅکله نه ښايي، څو د قرآن یا قیامت په اړه اختلاف وکړي، ځکه قرآن او د دې دین باورونه حق دي. که څوک پرې کفر وکړي، ډېر ژر به د خپل تکذیب په انجام پوه شي، یعنې وبه ګوري چې له څومره سخت عذاب سره به مخ شي. الله تعالی د خپل عظیم قدرت د ځینو هغو نښانو چې حیرانوونکی خلقت او نادره پدیدې دي او په قیامت د هغه د قدرت دلیل دی، یادونه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

«كَلاّ»: د تأكيد لپاره تكرار دی. هېڅكله نه، داسې نه ده. «سَيَعْلَمُونَ»: پوه به شي. مراد له مرګ وروسته او له قبرونو څخه راپورته كېدل دي. (ولولئ: المصحف الميسّر)

**«أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَاداً» (۶):**

«ايا ځمكه مو د اوسېدلو وړ نه ده ګرځولې؟».

**مهاد:** له مهد څخه اخيستل شوې او هغه زانګو ته ويل كېږي چې د ماشومانو د ارام لپاره جوړېږي. هغه ځايونه په ټاټوبي (د زانګو يا د خاپوړو په ځای) نومول شوي، له همدې كلمې څخه اخيستل شوي دي. واقعيت دا دی چې ځمكه مهربانه مور ده چې معلوم وېشل شوی رزق او روزي په كې امانت اېښودل شوې ده. دا يو له لوړو آيتونو څخه دی او حكمت ته د دعوت تعبير دی. د انسانانو تفكر ته خطاب دی چې وګورئ، آيا ستاسې لپاره مو ځمكه زانګو او د اوسېدنې يا ارام ځای نه ده ګرځولې؟ دغه راز د ځمكې كروي حالت ته هم اشاره ده چې كه چېرې ځمكه كروي نه وی، د ارامۍ او هوساينې ځای به نه و او د شپې او ورځې په را منځته كېدلو كې به زياتې ستونزې جوړولې.

ځينې وخت انسان په نعمتونو كې ډوب شي او له هرڅه غافله وي. الله ﷻ دا نعمتونه مونږ ته يادوي، ترڅو شكر كوونكي و اوسو؛ خو په مقابل كې ملعون شيطان دا نعمتونه له مونږ څخه هېروي او هغه څه چې نه لرو، زمونږ په نظر كې ېې لويوي، ترڅو شكر ادا نه كړو او راضي نه شو.

**«وَالْجِبَالَ أَوْتَاداً» (۷):**

(او غرونه مو پرې مېخونه وګرځول).

يعني: غرونه مو پر ځمكه د مېخونو په شكل محكم كړل، ترڅو آرامه شي او ونه لړزېږي او د حركت او لړزې مخنيوی يې وكړي. لكه څنګه چې خېمه په مېخونو كلكېږي.

«أَوتَادًا»: هغه مېخونه چې ځمكه پرې ثابته پاتې كېږي، لكه څنګه چې خېمه پرې محكمه او ثابته كېږي. هو! واقعيت دا دی چې الله تعالی غرونه په دقت او اندازې سره پر ځمكه كلك درولي دي، د ځمكې په منځ او شاوخوا كې يې په ښه او ښايسته تدبير سره مستقر كړي دي.

په التسهيل كې راغلي: غرونه له مېخ سره تشبه شوي دي، ځكه ځمكه خوندي ساتي او د لړزې مخه يې نيسي. [التسهيل: ۱۷۳/۴]

**«وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجاً» (۸):**

(او تاسې مو جوړه پيدا كړئ).

يعني الله ﷻ ټول مخلوقات جوړه او جفت خلق كړي دي. انسان يې ښځه او نارينه پيدا كړ. ښځه چې نازک، د پياوړي احساس او عاطفې لرونكې موجود دی، الله تعالی خلق كړه، ترڅو د ټولنې د تعليم او تربيې د رسالت څه بار په خپله اوږه واخلي او د كمال په لور ګام پورته كړي. خالق تعالی ښځه چې د هغه د جمال مظهر دی پيدا كړه، ترڅو د خپل خاوند د ارامۍ او سكون سبب وګرځي او د مهربانۍ او رحمت تر سيوري لاندې كورنۍ تشكيل كړي، ځكه رحمت او مهرباني د ژوند د بقا اسباب دي.

ketabton.com - The Digital Library

**«وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتاً» (۹):**

(او ستاسي لپاره مو خوب د ارام وسيله وګرځوله).

له طبيعي چارو څخه يوه مسئله خوب دی. خوب د بشر په ژوند کې له داسې ارزښت څخه برخمن دی چې په طبيعي توګه که څوک په هر علت له خوب څخه محروم شي، حتی د مړينې سبب يې ګرځي.

په هر حال انسان په طبيعي توګه خوب ته اړتيا لري او بې خوبي د انسان د زړه د دربدلو او مرګ لامل کېږي. ځينې پر همدې منطق وايي چې انسان له لوږې او تندې نه مري، خو له بې خوبۍ مري. په دې توګه د بشر لپاره د خدایﷻ يو نعمت خوب دی.

غوره خوب هغه دی چې په ارام چاپېريال کې وشي او خونه حد اقل روښنايي ولري. له دې امله قرآن کريم د الله تعالی د قدرت يوه لويه نښانه د شپې او ورځې ګردښت ګڼي چې په شپه کې د انسان د بشپړې ارامی او هوساينې فرصت رامنځ ته کوي او په ورځ کې د کاروبار او هڅو زمينه ايجادوي.

**«وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاساً» (۱۰):**

(او شپه مو پوښ او پرده وګرځوله).

قرآن د خوب واقعيت له بدن څخه د روح د وتلو په معنی ګڼي او فرمايي: «وَهُوَ الَّذِىْ يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ»، [انعام: ۶۰]، (او الله هغه ذات دی چې د شپې مو وفات کوي). همدارنګه فرمايي: «اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِىْ لَمْ تَمُتْ فِىْ مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِىْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰى اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى»، [الزمر:۴۲]، (او الله دی چې نفسونه د مرګ په وخت کې قبض کوي او هغه هم قبض کوي چې په خوب کې دي او لا مړه شوي نه دي. نو هغوی له ځان سره ټينګوي چې د مرګ حکم يې شوی وي او نور بېرته تر ټاکلې نېټې پورې رالېږي).

په دې آيتونو او په ځانګړې توګه په وروستي آيت کې مرګ ته اشاره شوې ده. په قرآني تعبير کې خوب او مرګ يوه چاره ده او له يو او بل سره هېڅ تفاوت نه لري. په دې معنی چې د مرګ او خوب حقيقت دا دی چې د انسان روح په بشپړ ډول اخيستل کېږي او له انساني لاښ څخه د باندې وځي. په همدې توګه د خوب پر وخت د بدن او روح تر منځ اړيکه سستېږي او الله تعالی روحونه له لاښونو څخه باسي او يو بل ځای ته يې وړي چې د انسان له لاښ او بدن څخه د باندې داسې يو ځای کې دی چې د اللهﷻ په نزد باندې دی.

د خوب او مرګ تر منځ يوازينی توپير دا دی چې د مرګ پر وخت دا اړيکه په ټوليزه توګه پرې کېږي او د روح او بدن ترمنځ هر ډول تړاو له منځه ځي. په دې وخت کې د انسان بدن او روح له يو او بل سره هېڅ پيوند نه لري او کوم روح چې له بدن څخه بېل شوی دی، د بېرته راګرځېدلو اجازه نه لري او چېرته چې تللی دی، هلته ساتل کېږي. مګر خوب داسې دی چې دا اړيکه بېرته په بشپړ ډول نښلول کېږي او روح بېرته بدن ته استول کېږي، ترڅو د ژوند فعاليتونه رهبري کړي.

قرآن هر خوب مرګ ګڼي چې وفات او په بشپړ ډول اخيستنه په کې ترسره کېږي، په دې توپير چې د مرګ په وخت کې روح خوندي کېږي، مګر په خوب کې تر يو وخت چې د شخص ټاکلی اځل دی، بېرته راګرځول کېږي، ترڅو وجود مديريت کړي.

په دې توګه د خوب حقيقت کولای شو، د مرګ په څېر له تن څخه د روح وتل وګڼو. هر خوب مرګ دی چې

ketabton.com - The Digital Library

دوام نه مومي او تن ته د روح په بېرته راګرځېدلو سره له منځه ځي. په دې توګه ویښوالی بدن ته د روح بېرته راګرځېدل دي. څوک چې ویده وي، پر خپل ځان هېڅ ډول کنټرول او تسلط نه لري او د روح او بدن اړیکه په داسې ډول نه ده، لکه په بیداری کې چې ده. دا په دې معنی چې د روح او بدن ترمنځ اړیکه له باندې څخه ده، نه له د ننه څخه؛ په داسې توګه چې یو قدرت له د باندې څخه هغه لاښ رهبري کوي.

**«وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشاً» (۱۱):**

(او ورځ مو ستاسو د عاید وخت ګرځولې ده).

ورځ د قرآن کریم یوه له مهمو موضوعاتو څخه ده چې الله ﷻ په دوه سورتونو کې په ورځې قسم یاد کړی دی.

- «وَ النَّهارِ إذا جَلها»؛ قسم په ورځ چې کله رڼا راولي.
- «وَ النَّهارِ إذا تَجَلي»؛ او قسم په ورځ چې کله روښانه شي.

مفسرین لیکي چې په نور او رڼا د الله تعالی د قسم موخه د هغوی لویو ګټو ته د انسان متوجه کول دي، څو د خپل خالق شکر او ستاینه ادا کړو.

په ورځ قسم دا څرګندوي چې په ورځ کې لوی الهي نعمتونه موجود دي، ځکه که چېرې تل تیاره وی، د الله تعالی مخلوقاتو ته د دې شونتیا نه وه چې د خپل معاش په طلب بوخت شي او که چېرې تل ورځ وی، له استراحت، سکون او ارامښت څخه به بې برخې وو. بناً په دې دوه سورتونو (الشمس او الیل) کې د شپې او ورځې موضوعات بیان شوي دي چې دا بیان د شپې او ورځې د حکمت په مواردو د دلالت په برخه کې د دې دواړو د لوړ ارزښت د څرګندولو په موخه دی.

د (الله تعالی قسم) له مهمو موضوعاتو څخه دی چې په قرآن کریم کې د لوی رب ﷻ له لوري یاد شوی دی او په (الشمس، الیل او نورو) سورتونو کې به پرې مفصل بحث ولرو. دلته په لنډ ډول غواړو یادونه وکړو چې: هغه سورتونه چې په قرآن کریم کې په قسم پیل شوي دي، یو عامل لري. دا چې ولې باید الله سبحانه وتعالی قسم یاد کړي او ولې باید په طبیعت قسم یاد کړي؟ مونږ د هغه په نامه او په قرآن قسم یادوو ، نو الله ﷻ ولې باید قسم یاد کړي؟

مفسرین یې د علت په اړه لیکي: د قسم موضوع زیاتره په هغو سورتونو کې یاده شوې ده چې مکي دي او دا سورتونه په داسې فضا کې نازل شوي دي چې مقابل او مخاطب کسان یې غواړي له قرآن څخه انکار وکړي او دا الهي کلام ونه ګڼي. دوی ویل چې محمد ﷺ پیغمبر نه دی او الله تعالی له بشر سره اړیکه نه ده ټینګه کړې. انسان هغه وخت قسم خوري چې له منکر سره مخامخ وي، کنه مونږ قسم خوړلو ته اړتیا نه لرو. کله چې عادي خبرې کوو، قسم نه یادوو. هغه وخت قسم یادوو چې وګورو، مقابل لوری زمونږ په خبرو باور نه کوي، یا زمونږ له خبرو څخه منکر دی، یا دا چې اصلاً زمونږ خبرو ته په ارزښت قایل نه دی.

په دې توګه الله تعالی قرآن کریم زمونږ د انګېرنو او افکارو په کچه نازل کړی دی. دا الهي کلام د خپلو مخاطبینو له درک او پوهې سره سم نازل شوی دی او غواړي چې له مخاطبینو سره یې اړیکه ټینګه کړي او هغوی تر خپل اغېز لاندې راولي. په دې ډول د هغوی استبعاد (له واقعیت څخه لرې ګڼل) چې له بشر سره د الله تعالی اړیکه بعیده ګڼي، خدای ﷻ غواړي په خپل قسم سره د هغوی استبعاد له منځه یوسي. په قرآن

ketabton.com - The Digital Library

کې د الهي قسمونو يوازينې دليل همدا دی.

**«وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعاً شِدَاداً» (۱۲):**

(او ستاسې له پاسه مو اووه محکم اسمانونه درولي دي). چې په خپل خلقت او پيدايښت کې کلک او ځواکمن دي. په داسې ډول چې جوړښت يې هېڅ عيب نه لري.

«سَبْعاً» اووه: دا عدد د تکثير لپاره دی او د اسمانونو او د نړۍ د هستۍ پراخه کهکشانونو او لمريزو نظامونو ته اشاره ده چې د کلک جوړښت لرونکي دي. يا پر تحديد دلالت کوي، مګر مونږ چې کوم ستوري وينو، دا ټول په لومړي اسمان پورې اړوند دي او د هغو له پاسه شپږ نور اسمانونه موجود دي چې د بشر د علم له لاس رسي څخه د باندې دي. [ولولئ: صافات/۶، فصلت/۱۲]

د (شداد: کلک او ټينګ) کلمه په دې معنی کارول شوې ده چې مرزونه يې داسې کلک دي چې د ذرې په اندازه بدلون په کې نه ايجادېږي. له دې بې شماره سيارو يا ستورو  څخه هېڅ يو هم نه له دې مرزونو څخه تېرېدلای شي، نه له يو بل سره ټکر کېږي او نه ځمکې ته راښکته کېږي. لکه الله ﷻ چې فرمايي:«وَ جَعَلْنَا السَّماءَ سَقْفاً مَحْفُوظاً وَ هُمْ عَنْ آياتِها مُعْرِضُونَ»، [النبياء: ۳۲]، (او اسمان مو خوندي چت ګرځولی دی، خو دوی له دې آيتونو څخه ګرځوونکي دي).

**«وَجَعَلْنَا سِرَاجاً وَهَّاجاً» (۱۳):**

(او خورا روښانه څراغ مو جوړ کړی دی).

له دې څخه موخه لمر دی چې تلپاتې تودوخه او روښنايي لري. د حساب پر بنسټ حرکت کوي، په حکمت سره رڼا خپروي او زمونږ د تقدير له مخې روښانه دی. نه يې په سير او حرکت کې کوم خنډ را منځته کېږي او نه يې په ځرک او غروب کې ناهمغږي ليدل کېږي.

مفسرينو فرمايلي دي: وهاج يعني چې رڼا يې زياته، مشتعل او شغلې وهونکی وي.

**«وَ أَنزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاء ثَجَّاجاً» (۱۴):**

«له ورېځو څخه مو پرله پسې توېېدونکې اوبه نازلې کړې دي».

«الْمُعْصِرَاتِ»: د مُعْصِر جمع ده، هغه ورېځې چې ترې د باران د اورېدلو وخت را رسېدلی وي. ته به وايې د ورېځو د تراکم پر وخت پر هغو کوم سېستم حاکمېږي چې په تخته کېدلو سره يې په پايله کې  باران اورېږي. (تفسير نمونه).

«ثَجَّاجاً»: ډېر اورېدونکی او توېېدونکی. پرله پرسې توېېدونکی، (د قرآن د معانيو ژباړه).

**ورېځ په قرآن کې**

قرآن کريم د ورېځې لپاره بېلا بېلې کلمې کارولې دي چې د هغو له ډلې يې عبارت دي:

۱. **سحاب**: له (سحب) څخه اخيستل شوې او د کشولو په معنی ده. ورېځې ته ځکه سحاب وايي چې په اسمان کې د باد په وسيله حرکت کوي، يا دا چې اوبه له ځان سره کشوي. سحاب د ورېځې لپاره مطلق نوم دی چې هم باران لرونکې او هم بې بارانه ورېځې ته ويل کېږي، [مفردات: پاڼه /۳۹۹، سَحَب]. دا کلمه په قرآن

ketabton.com - The Digital Library

کریم کې نهه ځلې ذکر شوې ده: [البقره /۱۶۴، اعراف /۵۷، رعد /۱۲، نور /۴۰، النمل /۸۸، الروم /۴۸، فاطر /۹ او الطور /۴۴].

**۲.غمام:** له (غم) څخه اخیستل شوې کلمه ده چې د پټولو په معنی ده. وریځ ځکه په غمام یادېږي چې د لمر رڼا او اسمان پټوي، [مفردات: پاڼه /۶۱۳، غمّ]. دا کلمه څلور ځلې په قرآن عظیم ألشان کې راغلې ده، [البقره /۵۷ او ۲۱۰، اعراف /۱۶۰ او فرقان /۲۵].

**۳.عارض:** له (عرض) څخه اخیستل شوې او د ښکاره کولو په معنی ده او له دې امله وریځې ته عارض ویل کېږي چې د انسان د لیدلو وړ ګرځي. دا کلمه په قرآن کریم کې دوه ځلې په [الاحقاف: ۲۴ او ۴۶] سورت کې راغلې ده.

**۴.ظله:** له (ظلّ) څخه اخیستل شوې چې د سیوري او سیوري کوونکې وریځې په معنی ده، [مفردات، پاڼه /۵۳۶، ظلّ). په قرآن کریم کې دېرى د عذاب راوړونکې وریځې لپاره کارول شوې ده. دا کلمه دوه ځلې په مفرد ډول په [اعراف /۱۷۱، شعراء /۱۸۹] او یو ځل هم د جمع په ډول په [البقره /۲۱۰] آیت کې راغلې ده.

۵. **حاملات:** له (حمل) څخه اخیستل شوې ده او وریځې ته حاملات ویل کېږي، ځکه چې اوبه له ځان سره حمل کوي، [مفردات، پاڼه /۲۵۷، حمل]. دا کلمه په [الذاریات /۵۱] سورت کې یو ځل ذکر شوې ده.

۶. **معصرات:** له (عصر) څخه اخیستل شوې او د تخته کولو په معنی ده، [التحقیق، ټوک /۸، پاڼه /۱۴۶، عصر] او موخه ترې باران لرونکې وریځې دي. په معصرات سره د وریځې د نومونې سبب دا دی چې باد د باران د اورېدلو پر وخت هغه تخته کوي. د ځینو په باور مُعصِر له اِعصار څخه اخیستل شوې چې د طوفان په معنی ده او هغو وریځو ته ویل کېږي چې د توپان په وسیله راوړ شوې وي [مفردات، پاڼه /۵۶۹، عصر] او تند باران او لوی څاڅکي ولري چې مؤیّد یې «ثجّاجاً» (زیات او پرله پسې) دی او قرآن د هغو وریځو لپاره کارولې ده چې دا ډول باران اوروي. دا کلمه یو ځل په (النبأ: ۱۴) سورت کې راغلې ده.

۷. **مزن:** له (مزن) څخه اخیستل شوې چې پر ځلېدوکې، نوراني [مفردات، پاڼه /۷۶۶، مزن] او اوبو لرونکې وریځې اطلاق شوې ده [القاموس‌المحیط، ټوک /۲، پاڼه /۱۶۲۱، مزن]. دا کلمه یواځې یو ځل په [الواقعه /۶۹] سورت کې ذکر شوې ده.

۸. **صَوْب:** د لاندې توییدلو په معنی ده چې په وریځې سربېره په باران ته هم اطلاق شوې ده،[مقاییس، ټوک /۳، پاڼه /۳۱۷، صوب]. ځینو باران لرونکې وریځ ګڼلې ده. دا کلمه یو ځل په [البقره /۱۹] سورت کې کارول شوې ده.

۹. **سماء:** له (سموّ) څخه اخیستل شوې او د رفعت او لوړوالي په معنی ده او په هرڅه لکه وریځ چې پر انسان

ketabton.com - The Digital Library

سیوری کوي، اطلاق کېږي. [الصحاح، ټوک /۶، پاڼه /۲۳۸۲، سمو]. ځینو پر وربځ د دې اطلاق مجازي او ځینو نورو حقیقي ګڼلی دی [مقاییس، ټوک /۳، پاڼه /۹۸]. «سمو»: د ځینو په وینا له «سمو» څخه مقصد «سماء» ده چې په «وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً» [البقره: ۲۲] او د قرآن کریم په څو نورو آیتونو کې هم راغلې ده.

**«لِنُخْرِجَ بِهِ حَبّاً وَنَبَاتاً» (۱۵):**

(د دې لپاره چې په هغو «اوبو سره» غلې دانې او واښه را زرغن کړو).

یعني له وریځو څخه په اوربدلو اوبو سره له ځمکې څخه غلې دانې را زرغونوو چې ستاسو خواړه او قوت دی. لکه غنم، اوربشې او نور. همدا رنګه نباتات چې د څارویو واښه او نور د خوراک وړ ګیاوې دي.

**«وَجَنَّاتٍ أَلْفَافاً» (۱۶):**

(او ګڼ باغونه).

له ګڼو باغونو څخه موخه هغه باغونه دي چې په مېوو پټ او بشپړه احاطه لري او د داسې حکمت لرونکي دي چې له هر شي بې پروا وي او داسې رحمت ته اړتیا لري چې پر هرڅه وغوړېږي؛ داسې باغونه چې ونې یې زیاتې دي او یو په بل کې ننوتلې دي.

الله ﷻ د حشر او نشر په امکان د روښانه دلیل د وړاندې کولو په توګه دا د خپل قدرت د دلیل په ډول ذکر کړي دي، ځکه هغه خالق چې دا شیان خلق کولای شي، د مړیو په ژوندي کولو او حشر هم قادر دی.

**«إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتاً» (۱۷):**

(بې شکه چې د فیصلې ورځ «قیامت» مقرر وخت دی).

د مخلوقاتو تر منځ د محاسبې، جزا او قضاوت ورځ د خدای ﷻ په علم کې ټاکلې او مشخص وخت لري او مخته والی او وروسته والی نه لري.

مفسر قرطبي رحمه الله فرمایلي دي: د قیامت ورځ له دې امله په یوم الفصل نومول شوې ده چې الله تعالی د خپلو مخلوقاتو ترمنځ فیصله کوونکی او پرېکنده حکم صادروي چې په هغې ورځ به لومړني او وروستني حشر کوي. [قرطبي: ۱۷۳/۱۹].

**علماء د** « يَوْمَ الْفَصْلِ» په اړه مختلفې رایې لري:

1. په دې ورځ د کفارو او مؤمنانو تر منځ فاصله رامنځته کېږي.
2. په دې ورځ د خلکو او د هغوی د ترسره کړو ظلمونو ترمنځ واټن رامنځ ته کېږي.
3. «يَوْمَ الْفَصْلِ» د حق ورځ ده.
4. په دې ورځ خلک په هر واقعیت پوهېږي.

د دې علت چې د نعمتونو له یادونې وروسته د یوم الفصل په اړه خبرې کېږي، دا دی چې ځان د دنیا په نعمتونو بوخت نه ساتو او په دې پوه شو چې له دې دنیا وروسته کوم څه په مخکې لرو او موخه انسانانو ته خبرداری دی.

ketabton.com - The Digital Library

په دې توګه قيامت يعني له حق څخه د باطل جلا کېدل. د مؤمنانو له صف څخه د غير مؤمنانو جدايي چې را وبه رسېږي او ميقات دی، يعني قطعي او حتمي دی.

**«يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِفَتَأْتُونَ أَفْوَاجاً» (١٨):**

(هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پوکی وشي او تاسې به ټول ډلې، ډلې راځئ).

**صور**: هغه شپېلۍ ده چې اسرافيل عليه السلام به کې پوکی کوي او يو وېروونکی غږ به ترې راووځي (نو ډله ډله به راځئ). يعني: تاسو به هر امت له خپل پيغمبر سره ډله، ډله له قبرونو څخه را پورته کېږئ او د محشر او حساب کتاب لور ته به راځئ.

په هغه حديث کې چې له ابوذر غفاري رضي الله عنه څخه روايت شوی دی، راغلي دي: د قيامت په ورځ خلک په درېيو ډلو وېشل کېږي؛ يوه هغه ډله چې په مړه ګېډه او په جامو پټ په داسې حال کې چې پر خپلو سپرليو به سپاره وي، د حشر ميدان ته راځي. دوهمه ډله هغه کسان دي چې پياده به د حشر ميدان ته راشي. درېيمه ډله هغه کسان دي چې پر مخې به ښوېږي او د حشر ميدان ته به حاضرېږي، (مظهري د نسائي، حاکم او بيهقي په روايت). په ځينو روايتونو کې افواج په لسو ډولو تعبير شوي دي او ځينو ويلي دي چې د حشر د ميدان حاضرين اعمالو او افعالو ته په پام په بې شمېره ډلو وېشل کېږي. په دې اقوالو کې هېڅ ډول تضاد موجود نه دی.

**د ځينو علماوو په وينا په شپېلۍ کې درې وارې پوکی کېږي:**

1. لومړی پوکی وېره او وحشت دی.
2. دوهم پوکی مرګ دی او ټول مري.
3. درېيم پوکی له مرګ وروسته د ټولو را ژوندي کېدل دي.

**ځيني علماء د پوکي شمېر دوه ځلې ګڼي:**

1. د مرګ او وېرې پوکی.
2. د بيدارۍ او بېرته را ژوندي کېدلو پوکی.

**«وَفُتِحَتِ السَّمَاء فَكَانَتْ أَبْوَاباً» (١٩) :**

(اسمان به پرانيستل شي او په ګڼو دروازو به بدل شي).

لکه څرنګه چې الله تعالی په [الانشقا /١] سورت کې فرمايي: «إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ». دا چې رامنځ ته کېدل يې محقق دي، د ماضي په صيغې، فتحت سره بيان شوی دی. يعنې: اسمان به د زياتو دروازو لرونکی شي، ترڅو فرښتې ترې راښکته شي.

**«وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَاباً» (٢٠):**

(غرونه به له خپل ځای څخه په حرکت راشي او لکه سراب به شي).

لکه څرنګه چې انسان ته سراب د اوبو په شان ښکاري، په داسې حال کې چې اوبه نه دي، غرونه به هم په همدې شکل شي.

په دې معنی چې غرونه په شديد تکان سره له خپل ځای څخه پورته کېږي او ټوټه ټوټه کېږي او د يوه ګرد

ketabton.com - The Digital Library

غونديږ هوا ته پورته کېږي. په داسې شکل چې ليدونکي ګمان کوي چې هغه غر دی، څکه د غره په شکل دی، په داسې حال کې چې په حقيقت کې غر نه دی، بلکې يوه دوړه او ګرد دی او بس.

طبري رحمه الله فرمايلي دي: وروسته له هغو چې غرونه له يو او بل سره ووهل شي او په دوړه او ګرد بدل شي، ليدونکي پرې د اوبو ګمان کوي، مګر په حقيقت کې دوړه او ګرد دی. [طبري ۳۰/۷].

**«إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَاداً» (۲۱):**

(بې شکه چې جهنم څارنځای دی).

له جهنم څخه موخه دلته پل يعني پل صراط دی او هلته د ثواب او عذاب دوه فرښتې ولاړې دي. د عذاب فرښتې د جهنم اهل را نيسي او د ثواب فرښتې به د جنت اهل اخلي او خپلو ځايونو ته يې رسوي. (مظهري).

حسن بصري رحمه الله فرمايلي دي: د جهنم د پل ساتنه ټاکل شوې فرښتې کوي. هرڅوک چې جنت ته د ننوتلو اجازه ليک په لاس کې ولري، هغوی ته د تللو اجازه ورکوي او څوک چې دا جواز ونه لري، مخه يې نيسي. (مظهري).

**«لِلْطَّاغِينَ مَآباً» (۲۲):**

(د سرغړوونکو د ورتګ ځای دی).

يعني د دوزخ اور د سرغړوونکو تمځای دی چې په خوارۍ او ذلت سره به ورته راګرځي. هو! هلته عذاب ورکول کېږي او تحقير کېږي.

«لِّلطَّٰغِينَ»: هغه څوک چې د الله تعالی له شريعت سره يې مخالفت او له حدودو څخه تېری کړی دی او دين يې تکذيب کړی دی.

«مَآبًا»: سرچينه، محل او د بېرته راګرځېدلو ځای. مأب هغه مرجع او مکان دی چې د سرغړوونکو او منحرفو کسانو ځای دی.

**«لَابِثِينَ فِيهَا أَحْقَاباً» (۲۳):**

(د تل لپاره به هلته اوسېږي).

ياغي عناصر د خپلې سرغړونې او طغيان له عاقبت څخه بې خبره په بې باکۍ سره مخ ته ځي. نه پوهېږي چې دوزخ يې څو ګامه وړاندې په کمين او انتظار کې دی او پېړۍ پېړۍ به هلته اوسېږي. هغه د څو ورځو د مېشتېدلو ځای نه دی، له هغه وخت سره متناسب دی چې که چېرې دغو سرغړوونکو ته په دنيا کې ميسر او د لاس رسي وړ ګرځېدلی، له خپلې سرغړونې څخه يې لاس نه اخيستلو. هغوی تصميم درلود چې تل په دې سرغړونه کې ژوند وکړي، اوس بايد تل په دوزخ کې پاتې شي.

**«لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْداً وَلَا شَرَاباً» (۲۴):**

(نه به په کې يخ څيز وڅکي او نه تنده ماتوونکې اوبه).

هغوی به په دوزخ کې کوم يخ شی ونه مومي، ترڅو د اور په حرارت کې کموالی راولي او نه به اوبه ومومي، ترڅو تنده يې ماته شي. پوستکی به يې سوځېږي او له تندې سره به لاس او ګرېوان وي.

ketabton.com - The Digital Library

**«إِلَّا حَمِيماً وَغَسَّاقاً» (۲۵):**

(یوازې خوټېدونکې اوبه او بویني زوې).

حمیم: خوټېدلې اوبه

«حَمِیماً»: هغه اوبه چې د حرارت په اوج کې وي. حُمی د تبې په معنا ده، ځکه د بدن تودوخه له طبیعي حالت څخه لوړه ځي.

په اصل کې د «غساق» کلمه کارول شوې ده او هغو اوبو، چرک یا له وینو سره ګډو شوو اوبو او رطوبت ته ویل کېږي چې د عذاب او شکنجې د شدت له امله له سترګو او پوستکي څخه راوځي.

مفسرینو د «غساق» کلمې په اړه لاندې تفسیرونه وړاندې کړي دي.

1. هغه بد بدویه او بد خونده اوبه چې د دوزخیانو د بدن له زخمونو څخه راوځي.

2. شراب یا هغه څښاک چې له ډېر سوړوالي غاښونه ماتوي او زړه زړه یې کوي.

3. زیات ساړه، بدبویه او بد مزه څښاک.

**«جَزَاء وِفَاقاً» (۲۶):**

(دا یې د کړنو موافقه بدله ده).

په دې معنی چې دا د هغوی د اعمالو او کړنو مناسب عذاب دی، نو له شرک لویه او د دوزخ له اور څخه لوی عذاب نشته او دا چې اعمال یې بد دي، الله ﷻ د هغو مطابق عذاب ورکوي.

**«إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَاباً»: (۲۷):**

(دوی وو چې په حساب او کتاب یې باور نه درلود).

دغه دوزخیان د قیامت په تمه نه وو او ایمان یې پرې نه درلود. له مرګ وروسته یې د بیا ژوندي کېدلو اصلاً توقع نه لرله او په اخرت کې د الله تعالی له محاسبې نه وېرېدل، ځکه بیا ژوندي کېدل یې دروغ ګڼل. که چېرې تر مرګ وروسته له ژوندي کېدلو څخه وېرېدلای، په خپل خالق به یې ایمان راوړی و او نېک عملونه به یې ترسره کړي وو.

دوی معتقد وو چې هرڅه دي، په همدې دنیا کې دي او کله چې ومرو، هرڅه پای ته رسېږي. په داسې حال کې چې الله ﷻ داسې معامله نه کوي او هغه کار چې د خپلو بندګانو په وړاندې یې ترسره کوي، دا دی چې هغوی به د خپلو اعمالو بدله په کافي اندازه وګوري.

**«وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّاباً» (۲۸):**

(او زموږ آیتونه یې سخت دروغ ګڼلي وو).

دوی هغه قرآني آیتونه او دلیلونه چې الله سبحانه وتعالی د خپل خلقت په اړه د پیغمبرانو په وسیله نازل کړي وو، سخت دروغ وګڼل.

**«وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَاباً» (۲۹):**

(موږ هرڅه په کتابي ډول ثبت کړي دي).

ketabton.com - The Digital Library

يعني: هرڅه مو په لوح محفوظ کې ثبت کړي او شمېرلي دي، ترڅو فرښتې يې وپېژني. يا د بنده ګانو اعمال دي چې تاکلو فرښتو ليکلي دي.

**«فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَاباً» (۳۰):**

(«اې کافرانو!» وڅکی (زمونږ عذاب)، تاسې ته به له عذاب پرته بل څه در زيات نه کړو).

الله ﷻ فرمايي: «وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ»، [غافر: ۴۹] ،( او هغه کسان چې په اور کې دي، د دوزخ ساتونکو ته به ووايي: له خپل رب څخه وغواړۍ چې د يوې ورځې لپاره زمونږ عذاب لږ څه سپک کړي).

مفسرين وايي: په قرآن کريم کې د اور د خاوندانو په اړه له دې زيات شديد آيت نه دی راغلی، ځکه هرکله چې له عذاب څخه د خلاصون او نجات لپاره له چا څخه مرسته وغواړي، له لا شديد عذاب سره مخ کېږي. [تفسير قرطبي: ۱۹/۱۸۰ او حاشيه‌ی صاوي ۴/۲۸۵]

گرانه لوستونکيه !

په (۳۱ - ۴۰) مبارکو آيتونو کې د نېکمرغه کسانو احوال، د رحمان خدای رحمت او عظمت، د قيامت ورځ او بې ايمانه کسانو ته خبرداری بيان شوی دي.

**«إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازاً» (۳۱):**

(بې شکه د پرهېزګارانو لپاره «د اوامرو په ترسره کولو او د نهی په پرېښودلو سره» لويه کاميابي ده «چې جنت دی»).

مفاز: بريا او د مقصد حاصلول، د دوزخ له اور څخه نجات او يا (د خوښۍ محل) په معنی دی. ابن کثير دويمې معنی ته ترجيح ورکوي، ځکه له هغه وروسته الله تعالی فرمايي:

**«حَدَائِقَ وَأَعْنَاباً» (۳۲):**

(مېوه لرونکي باغونه او انګور).

«حَدَآئِقَ»: ثمر لرونکي او د ډول ډول ونو لرونکي باغونه. هغه باغونه چې زياتې ونې او د انګورو داسې تاکونه په کې وي چې يو پر بل سپرې ځانګې لري. د نورو مېوو ترمنځ د انګورو ذکر د هغو د زياتو ګټو او ښه خوند له امله دی.

**«وَكَوَاعِبَ أَتْرَاباً» (۳۳):**

(ځواني او همزولې پېغلې).

د جنتيانو لپاره باکره او همزولې نجونې مقررې دي چې د وتلو سينو لرونکې دي. په التسهيل کې راغلي دي: کواعب د کاعب جمع ده او هغې نجلی ته ويل کېږي چې وتلې سينې ولري. (التسهيل ۴/۱۷۴).

«أَتْرَابا»: په عمر، حسن او ښايست کې يو شان. اتراب جمع ده او مفرد يې (تِربٌ) ده.

**«وَكَأْساً دِهَاقاً» (۳۴):**

(او «د جنتي پاکو شرابو» ډک جامونه).

د شرابو داسې ډک جامونه د جنتيانو لپاره چمتو شوي دي چې نه به هغوی نشه کړي او نه به يې سر په

ketabton.com - The Digital Library

درد کړي. سره له دې چې زيات خوند او سرور لري، خو نه به يې په هذيان (بېهوده افعالو او اقوالو) اخته کړي او نه به يې په عقل اغېز وکړي.

مفسر قرطبي رحمه الله فرمايلي دي: له کاس څخه موخه شراب دي او لکه چې ويل شوي دي، له تصفيه شوو شرابو څخه ډکې پيالې دي. [تفسير قرطبی: ۱۸۱/۱۹]

«كَأْساً»: جام. په قرآن کريم کې هرځای چې دا لفظ کارول شوی دی، موخه له شرابو ډک جام دی.

«دِهَاقًا»: ډک يا توېېدونکي. د الله تعالی د مهربانی او ورکړې نښانه ده، مګر نه دومره چې ترې توی شي، بلکې د تندې او اړتيا په کچه دي.

**«لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْواً وَلَا كِذَّاباً» (۳۵):**

(هلته به نه چټي خبره اوري او نه هم دروغ).

مؤمنان به په جنت کې نه بابېزه او بې ځايه خبرې واوري او نه به په کې دروغ ، ځکه جنت دارالسلام دی او هلته چې څه دي، له بطلان او نيمګړتيا څخه پاک او سالم دي. په جنت کې د شرابو په خوړلو سره د انسان عقل نه زيانمن کېږي او نه بې ګټې او دروغ خبرې اوري. ټول د يو او بل ترخنګ ناست او رحمن خدای هر ډول ناراحتي او ناپاکي د هغوی له زړونو څخه پاکوي. هلته ټول د سلام او نېکو خبرو په وړاندې کولو سره مجلسونه کوي، عزت، منطق او حلاوت به په کې موجود وي.

**«جَزَاء مِّن رَّبِّكَ عَطَاء حِسَاباً» (۳۶):**

(د رب له لوري د دوی جزا ده، کافي او حساب شوې لورېينه).

دا د هغوی د کړنو بدله او ستا د رب لورينه ده).

«مِّن رَّبِّكَ»: د الله تعالی له لوري. دا د حق تعالی د رحمت او مهرباني دليل دی. دا مکافات د هغو نېکو اعمالو په بدل کې ورته چمتو شوي چې ترسره کړي يې دي او دا نعمتونه يې د مستقيمې لارې د اوامرو په ترسره کولو سره لاسته راوړي دي چې خپل رب ورته اعطا کړي او بښلي دي او دوی يې د خپلو غوره اعمالو په بدل کې په بهترين او نېک مقام کې مستقر کړي دي.

**«رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرحْمَنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَاباً» (۳۷):**

(د اسمانونو او ځمکې او څه چې د هغوی تر منځ دي، د ټولو پالونکی دی او مهربان دی. هېڅوک د هغه په وړاندې د خبرو واک نه لري).

**«يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفّاً لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرحْمَنُ وَقَالَ صَوَاباً» (۳۸):**

(په کومه ورځ چې روح او ملايکې کتار ،کتار ودرېږي، هېڅوک به د څه ويلو جرائت نه لري، پرته له هغوی چې مهربان ذات اجازه ورکړي او نېکه خبره وکړي).

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: روح هغه لويه فرښته ده چې په خپل خلقت کې له ټولو فرښتو څخه لويه ده.

ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: «روح هغه فرښته ده چې له اسمانونو او ځمکې څخه لويه ده».

مفسر نسفي فرمايلي دي: جمهور قول دا دی چې روح جبرائيل عليه السلام دی. بل قول دا دی چې روح د

ketabton.com - The Digital Library

الله ﷻ له لښکرو څخه يو لښکر دی چې فرښته نه ده. په يو بل قول کې راځي: هغوی د بني آدم ارواح دي چې دوی په يوه صف او ليکه او فرښتې په بل صف او ليکه کې دريږي. دا چاره د اسرافيل عليه السلام په شپېلی کې د دوه پوکيو
تر منځ ترسره کېږي، هغه وخت چې ارواح لا جسدونو ته نه وي را ګرځېدلې.

**«ذَلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَن شَاء اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآباً» (۳۹):**

(دا د حق ورځ ده. د چا چې خوښه وي، نو د خپل رب په لور ورتلونکې لار دې خپله کړي).

قيامت هغه ورځ ده چې وعده يې رښتيني، راتلل يې حق او وخت يې ثابت دی. نو هرڅوک چې غواړي، صالح عمل دې وکړي، ترڅو د خپل پالونکي له لوري ورته ګټه ورسوي او له سخت عذاب او سزا څخه نجات ترلاسه کړي.

«الْيَوْمُ الْحَقُّ»: حقيقت څرګندېږي، عدالت قايمېږي.

«فَمَن شَآءَ»:واک او اختيار ستاسې خپل دی. قيامت حق دای او واقع کېږي، دا چې توبه کوئ او نېکې لارې ته راګرځئ يا نه، ستاسو خپله خوښه ده.

«إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا»: په صالح عمل سره به د خپل رب لور ته راګرځې.

«مَـَٔابًا»: په ايمان او تقوا سره سالم راګرځېدل چې د دې دواړو په وسيله نجات موندل کېږي.

**«إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ عَذَاباً قَرِيباً يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُيَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَاباً» (۴۰):**

(مونږ تاسې له نږدې راتلونکي عذاب څخه وېروو. هغه ورځ چې هر سړی به په خپلو لاسونو له وړاندې ترسره کړل شوي کړنې ووينې او کافر به وايي کاش چې خاورې وای).

ابن کثير رحمه الله نقل کوي: خدای ﷻ خاروي له يو او بل څخه د غچ اخيستلو په موخه راټولوي او وروسته له هغو چې يو بل څخه غچ واخلي، په خاورو بدلېږي. نو دا هغه وخت دی چې کافران به د هغوی د حالت هيله کوي.

څرنګه مو چې په پورته آيتونو کې ولوستل، کله چې کفار او مجرمين د قيامت صحنه، د الله تعالی عدالت او د اعمالو بدله ويني، ډول ډول غبرګونونه ښيي چې ټول پر هغوی د اغېز او تأسف حکايت کوي:

کله وايي: افسوس پر مونږ! چې د الله تعالی د فرمان په اطاعت کې مو غفلت وکړ.

کله وايي: اې خدايه! مونږ بېرته دنيا ته وګرځوه، ترڅو صالح عمل وکړو.

کله وايي: اې کاش چې خاورې وی او هېڅکله نه ژوندي کېدلای.

په هغه لويه ورځ د نېکو کارانو تر ټولو غوره مکافات او د بدکارانو تر ټولو بد مجازات همدا اعمال دي چې مجسم کېږي او ورسره به وي. هو! انسان چې د ټولو مخلوقاتو اشرف دی، د کفر او ګناه له امله داسې حالت ته رسېږي چې د بې روحه او پست موجوداتو په صف کې د شتون هيله کوي.

### د دوزخيانو د عذاب شدت

د اور عذاب او شکنجه ډېره سخته او وېروونکې ده. د دوزخ عذاب دومره شديد او سخت دی چې انسان له هغو څخه د نجات په موخه چمتو دی، غوره مال او شتمني فديه کړي. الله ﷻ فرمايلي دي: «إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ

ketabton.com - The Digital Library

وَمَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ الأرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَي بِهِ أُوْلَئِکَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ»، [آل عمران: ۹۱]، (بې شکه هغو کسانو چې کفر کړی دی او په داسې حال کې مړه شوي چې کافران دي، نو له دوی څخه به قبول نه شي «که چېرې د ځان د خلاصون لپاره» ډکه ځمکه سره زر فدیه کړي. د دوی لپاره دردناک عذاب دی او هېڅوک به مرستندوی ونه مومي).

الله تعالی په یو بل آیت کې فرمايي: «إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لِيفْتَدُواْ بِهِ مِنْ عَذَابِ يوْمِ الْقِيامَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ»، [المائده: ۳۶] ،(بې شکه هغه کسان چې کافران شوي دي، که د ځمکې ټول مال او د هغې په کچه نور مال هم د قیامت د ورځې له عذاب څخه د نجات په موخه فدیه کړي، ترې قبول به نه شي «د خلاصون هېڅ لار نه لري» او د دوی لپاره دردناک عذاب دی).

په صحیح مسلم کې له حضرت انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «يؤْتَي بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يوْمَ الْقِيامَةِ فَيصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يقَالُ يا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيتَ خَيرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِکَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيقُولُ لَا وَاللَّهِ يا رَب»، [مشكاة المصابيح: ۱۰۲/۳]، (د قیامت په ورځ به د دنیا تر ټولو نېکمرغه اهل چې د اور اهل دی، راوړل کېږي او یو وارې په اور کې غوټه ورکول کېږي. وروسته ترې پوښتل کېږي: اې د آدم اولادې! آیا کله مو هم خیر لیدلی و؟ آیا کله هم کوم نعمت درسره و؟ دوی به وايي: اې زمونږ ربه! ستا په ذات قسم چې کله مو هم نه دی لیدلی). دا یوازې څو شېبې دي چې کافران يې په لیدلو د دنیا ټولې خوښۍ او خوندونه هېروي.

په بخاري او مسلم کې له انس بن مالک څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: «إِنَّ اللَّهَ يقُولُ لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا لَوْ أَنَّ لَکَ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيءٍ كُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَقَدْ سَأَلْتُکَ مَا هُوَ أَهْوَنُ مِنْ هَذَا وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ أَنْ لَا تُشْرِکَ بِي فَأَبَيتَ إِلَّا الشِّرْکَ»، یعنې: (الله تعالی د قیامت په ورځ له هغو کسانو څخه چې عذاب یې تر نورو لږ څه کم وي، پوښتي: که چېرې د دنیا له نعمتونو څخه کوم څه دې لرلی، د دوزخ له عذاب څخه د ژغورنې لپاره دې فدیه کول؟ دوی به وايي: هرو مرو! الله تعالی به وفرمايي: تر هغو مو کم درڅخه غوښتي وو، کله چې ته د خپل پلار آدم په صلب (ملا او شا) کې وې. مونږ له تا وغوښتل، له مونږ سره شريک مه نیسه، مګر تا شریک ونیو). [بخاري، کتاب الرقائق، باب: صفة الجنة و النار، فتح الباري:(416/11). (مشكاة المصابيح: (۱۰۲/۳)]

له دوزخ څخه د نجات په موخه انسان چمتو دی، ټول خپلوان او ملګري قرباني کړي: «يبَصَّرُونَهُمْ يوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ﴿۱۱﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿۱۲﴾ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْويهِ ﴿۱۳﴾ وَمَن فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ ينجِيهِ ﴿۱۴﴾ كَلَّا إِنَّهَا لَظَي ﴿۱۵﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَي﴿۱۶﴾»، [المعارج: ۱۱-۱۶]، ( مجرمین خوښوي چې له عذاب څخه د نجات لپاره د خپلو زامنو په فدیه کولو خلاص شي، یا په خپلې ښځې او ورور؛ یا خپل هغه قوم چې ځای يې ورکړی و او حتی ټول هغه څه چې د نړۍ پر مخ دي، فدیه کړي او نجات ومومي. نه هېڅکله نه! بې شکه هغه د اور لمبې دي. د اندامونو پوستکي وباسي).

خو هېڅکله هم نه! دا هیلې او غوښتنې به يې پوره نه شي او هېڅ ډول فدیه نه منل کېږي. هغه ټول سوځوونکی اور او لمبې (دوزخ) دی. د انسان پوستکی وباسي او سوځوي يې. هو! دا پرله پسې او وېروونکی

ketabton.com - The Digital Library

عذاب به د ګناهکارانو لپاره تل او له کومې دمې پرته نا راحت کوونکی او شدید وي.

## په شپږو ورځو کې د خلقت پیدایښت

لومړی په دې باید پوه شو چې په قرآن کریم کې د خلقت له پیدایښت څخه موخه څه ده؟ د پیدایښت بحث د اوو شیانو په اړه د قرآن کریم په آیتونو کې راغلی دی. خو په درېیو مواردو کې پر اسمان او ځمکه سربېره «ما بینهما» (څه چې د هغوی ترمنځ دي) هم راغلي دي او په واقعیت کې دا د مخکینۍ جملې توضیح ده، ځکه د ځمکې او اسمانونو ترمنځ دا ټول جمع دي او هغه څه چې پورته طرف ته دي، په اسمان کې شاملېږي او ځمکه یې مقابل ټکی دی.

د «یوم» (ورځ) پراخه کلمې او په نورو ژبو کې د هغو معادل ته په کتلو د دې پوښتنې ځواب دا دی چې په ډېرو وختونو کې دا کلمه د «یو دوران» په توګه کارېږي. ښايي دا دوران یو کال وي، سل کاله وي، یو میلیون او یا میلیاردونه کاله وي چې په قرآن کریم کې هم داسې نښانه موجوده ده او دا حقیقت ثابتوي.

په قرآن کریم کې سلونه ځله د «یوم» او «ایام» کلمې راغلي دي او په ډېرو مواردو کې د شپې او ورځې په معنی معمول نه دي. د بېلګې په توګه؛ له بیا ژوندي کېدلو څخه تعبیر «یوم القیامه» دی او دا په ډاګه کوي چې ټول محشر چې یو ډېر اوږد دوران دی، د (قیامت د ورځې) په توګه ګڼل کېږي. د قرآن کریم له ځینو آیتونو څخه داسې معلومېږي چې د حشر ورځ او د خلکو د اعمالو محاسبه پنځوس زره کاله اوږدېږي. په لغت کې هم کله له «یوم» څخه هدف د لمر د راپورته کېدلو او غروب ترمنځ د وخت کچه ده او کله هم هغه اندازه وخت ته ویل کېږي چې په هره کچه وي.

په دې بنسټ خالق تعالی ځمکه او اسمان په شپږو پرله پسې دورانونو کې پیدا کړي دي، که څه هم دا دورانونه میلیونونه یا ملیاردونه کاله وي. د [فصلت: ۹-۱۲] آیتونو ته په پام دا شپږ دورانونه په ترتیب سره په لاندې ډول دي.

- هغه ورځ چې ټوله نړۍ د ګازي ټوټې په شکل وه چې د خپل دور په راګرځېدلو سره له یو بل څخه جلا ټوټې شوه او کرې یې تشکیل کړې.
- دا کرې په تدریجي توګه  ویلې شوې، نوراني، سړې او د اوسېدلو وړ وګرځېدلې.
- په بله ورځ کې لمریز نظامونه منځته راغلي دي او ځمکه له لمر څخه بېله شوې.
- بله ورځ ځمکه سړه او د اوسېدلو وړ ګرځېدلې ده.
- وروسته په ځمکه کې ونې او واښه زرغون شول.
- بلاخره حیوانات او انسانان په ځمکه کې ظاهر شول.

مګر دا چې ولې الله ﷻ دا نړۍ په یوه لحظه کې پیدا نه کړه، سره له دې چې په خپل بې انتها قدرت سره یې کولای شول، د ځمکې او اسمانونو پیدایښت په یوه شېبه کې وکړي، نو ولې یې په دومره اوږدو دورانونو کې دا پیدایښت وکړ؟ دې پوښتنې ته په ځواب کې مهم ټکی دا دی چې که چېرې پیدایښت په یوه شېبه کې ترسره کېدلای، د خالق د علم، قدرت او عظمت درک به کمزوری و؛ خو کله چې په بېلا بېلو پړاوونو، بېلا بېلو شکلونو او د منظم پلان او پروګرام له مخې پیدا شي، نو د پیدا کوونکي د پېژندنې دلیل لا روښانه کېږي. مثلاً که چېرې د انسان نطفه په یوه لحظه کې په بشپړ ماشوم بدلېدلای، د خلقت عظمت دومره زیات نه راوښانه

ketabton.com - The Digital Library

کېده، مګر کله چې د ټهو میاشتو په اوړدو کې، هره ورځ په یوه پړاو او هره میاشت په نوي شکل ظهور پیدا کوي، کولای شي د هغو پړاوونکو په طی کولو سره د خالق د عظمت د نویو نښانو لا ښکارندویي وکړي.
په واقعیت کې د هستۍ پیدایښت ګام په ګام ترسره شوی دی او ګام په ګام قانون له طبیعي او عقلي قانون سره همغږی دی چې عقلاً هم د منلو او خوښولو وړ دی. البته د دې بحث لپاره مخه خلاصه ده او په تحقیق کې یې مانع نشته.
د هستۍ او طبیعت پیدایښت باید له طبیعي قانون سره همغږی وي، که څه هم د الله سبحانه وتعالی قدرت او اراده «کن فیکون» ده او د دې دواړو ترمنځ اختلاف نشته چې الله تعالی هم «کن فیکون» او هم د هستۍ په پیدایښت کې د طبیعي او عقلي قانون پر بنسټ چې ګام په ګام قانون دی، عمل وکړي.

صدق الله العظیم و صدق رسوله النبي الکریم
و من الله التوفیق

ketabton.com - The Digital Library

## د النّبأ سُورَت د موضوعاتو او مطالبو لړلیک

| ګڼه | د سورت نوم | د سورتونو معنی او منځپانګه | پاڼه |
|---|---|---|---|
| | النّبأ سُورَت | النّبأ: د محشر د ورځې خبر<br>د سورت منځپانګه: دا سورت د قيامت د لويې پېښې په اړه د پوښتنو په چوکاټ کې، په ځمکه او اسمانونو کې د الله تعالی د قدرت په يادولو، نيکي کوونکو ته د الهي نعمتونو او سرغړوونکو او کافرانو ته د دردناک عذاب په يادولو بحث کوي. | |
| ۱ | | د تسميې وجه | |
| ۲ | | له المرسلات سورت سره د النبأ سورت مناسبت او اړيکه | |
| ۳ | | د النبأ سورت د آيتونو، کلمو او تورو شمېر | |
| ۴ | | د النبأ سورت د نزول سببونه | |
| ۵ | | په (۱ - ۳۰) مبارکو آيتونو کې له بيا را ژوندي کېدلو ځخه خبر ورکول، د اثبات په دلايلو، د قيامت د ورځې ځانګړني او نښاني او د عذاب په ډول بحث شوی دی. | |
| ۶ | | وريځ په قرآن کې | |
| ۷ | | په (۱ - ۳۰) مبارکو آيتونو کې په بيا ژوندي کېدلو، د اثبات په دلايلو، د قيامت د ورځې په اوصافو، نښو او د عذاب پر ډول بحث ترسره کېږي. | |
| ۸ | | د دوزخيانو د عذاب شدت | |
| ۹ | | په شپږو ورځو کې د خلقت پيدايښت | |

### د النّبأ سُورَت ژباړه او تفسير:

تتبع او ليکنه: امين الدين «سعيدي - سعيد افغاني»

د افغان ستراتيژيکو مطالعاتو د مرکز مشر او د حق لارې کلتوري ټولنې مسوول. جرمني

برښناليک: saidafghani@hotmail.com

ژباړه: حامدالله «ستون»

برښناليک: stoone.af@outlook.com

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*